# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۹ / رمضان المبارک /١٤٤٥هـ، ق موافق ۱۰ / حمل/۱۴۰۳هـ،ش**

# د روژې په مبارکه مياشت کې د سرسايې او اعتکاف فضايل او احکام

الحمد لله على إحسانه، والشكر له على توفيقه وامتنانه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له تعظيماً لشأنه، وأشهد أن نبينا محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليماً مزيداً، أما بعد:
قال الله عزوجل : (قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ. وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ).سورة الأعلى: (۱۵)

وروي عن أبي سعيد الخدري وابن عمر: أن ذلك في صدقة الفطر، وصلاة العيد. تفسير القرطبي (۲۰/ ۲۱)
مونږ او تاسو د رمضان المبارک د دوهمې عشرې په وروستۍ ورځو کې قرار لرو او د رمضان المبارک شلم تاريخ څخه وروسته د روژې آخري عشره شروع کيدونکې ده چې په آخري عشره کې د اختر په ورځ کې ځينې هم غوره اعمال شته چې بايد ترسره شي او په کارده چې ددغو اعمالو په احکامو او مسائلو باندې ځان پوهه کړو ؛ ترڅو په ښه شان سره هغه ترسره کړو او عمل ورباندې وکړو چې د هغو اعمالو له جملې څخه د سرسايې عمل دی او د اعتکاف عمل دی.

**لومړی: د سرسايې تعريف او حقيقت:**

سرسايه د هغه (واجبي) صدقې څخه عبارت دی چې مسلمان يي د کوچني اختر په ورځ دزکات مستحقينو ته ورکوي.
نور الإيضاح (ص: ۱۳۵)

سرسايه هغه مالي عبادت ته ويل کيږي چې مسلمانان سرسايه د کوچني اختر په ورځ د زکات مستحقينو ته ورکوي.

سرسايې ته په فقهي اصطلاح کې (صدقة الفطر) وايې او په احاديثو کې ورته د صدقة الفطر او زكاة الفطر اصطلاحات ذکر شوی ده او امام محمد رحمه الله په کتاب الحجة کې ورته زكاة الفطر ويلی دی.

سرسايې ته (صدقه) ځکه ويل شوی ده چې صدقه هغه خيرات ته ويل کيږي چې د ثواب په اراده سره ورکول کيږي او په صدقة الفطر کې هم د ثواب اراده موجوده وي او د واجب عمل د ترسره کولو اراده هم موجوده وي.

په (صدقة الفطر ) کې نسبت سبب ته شوی دی او صدقه فطر ته صدقه فطر له دې وجې ويل کيږي چې دا د ژوندي ځان صدقه او زکات دی ؛ځکه (فطر) په عربي کې فطرت او خلقت ته ويل کيږي.

يا داچې په صدقة الفطر کې نسبت شرط ته شوی دی ؛ځکه (فطر) د کوچني اختر ورځې ته ويل کيږي او صدقه فطر ته ځکه صدقه فطر وايې چې د کوچني اختر په ورځ لازميږي او ورکول کيږي. البحر الرائق (۲/ ۲۷۰)
دامام محمد رحمه الله په نزد سرسايه د حقوق الله له جملې څخه ده او دامام اعظم ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهماالله په نزد سرسايه د حقوق العباد له جملې څخه ده يعنې داد فقيرانو حق دی؛ځکه د صغير په مال کې او د ليوني په مال کې هم واجبيږي.الجوهرة النيرة (۲/ ۲)

**د سرسايې حکم او مشروعيت :**

سرسايه واجب ده په هر آزاد مسلمان باندې چې مالک د نصاب وي او د اصلي ضرورتونو څخه يې زيات وي. مراقي الفلاح (ص: ٢٦٩)

روژه د هجرت په دوهم کال د شعبان المعظم په مياشت کې فرض شوی ده، هغه وخت چې د تحويل د قبلې حکم راغی او سرسايه د هجرت په دوهم کال واجب شوه. رسول الله صلى الله عليه وسلم د کوچني اختر څخه دوه ورځې وړاندې صحابه کرامو ته وفرمايل:(أَدُّوا عَنْ كُلِّ إِنْسَانٍ صَاعًا مِنْ بُرٍّ عَنِ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى). سنن الدارقطني (٣/ ٧٩)

ترجمه:- ورکړئ د هر انسان څخه يوه پيمانه د غنمو د وړوکي څخه ، د لوی څخه، د نر څخه ، د ښځې څخه .

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عن ابن عُمرَ رضي الله عنهما قال: فرَضَ رسولُ الله - صلى الله عليه وسلم - زكاةَ الفِطْرِ صاعاً من تمرٍ، أو صاعاً من شعيرٍ، على العبدِ والحُرِّ، والذَّكرِ والأنثى، والصغيرِ والكبيرِ، منَ المسلمينَ، وأَمرَ بها أن تؤدَّى قبلَ خروجِ الناسِ إلى الصلاةِ). مختصر صحيح الإمام البخاري (١/ ٤٤٧)

ترجمه:- دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مقرر کړی ده زکات د فطر(سرسايه) يوه پيمانه له خرما څخه او يا يوه پيمانه له وربشو څخه پر غلام او آزاد باندې، پر نر او ښځې باندې ، پر صغير او لوی باندې د مسلمانانو څخه او امر يې کړی چې اداء دې کړئ شئ سرسايه مخکې د وتلو د خلکو لمانځه ته.دلته د(فَرَضَ) څخه مراد (أَوجَبَ)دی.

صحابه کرامو د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم امر ومنلو او سر سايه به يې ورکوله. په يوروايت کې راځي:(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُخْرِجُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ وَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ وَكَانَ طَعَامَنَا الشَّعِيرُ وَالزَّبِيبُ وَالْأَقِطُ وَالتَّمْرُ ). صحيح البخاري ت (٣/ ٥٨٥)

ترجمه:- د ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ به د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې ويستله د کوچني اختر په ورځ يوه پيمانه د خوراکي (شيانو څخه).ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي او خوراک زمونږ ؤ وربشې، مميز، قروت(کروت) او خرما.

**د سرسايې شرطونه:**

**١-** د سرسايې لومړی شرط اسلام دی په کافر سرسايه نشته ځکه دا يو ډول عبادت دی،له همدې امله، له نيت پرته نه اداکيږي او کافر د عبادت اهل نه دی.

**٢-** دويم شرط يې آزادي ده، په مريي سرسايه واجبه نه ده، ځکه مريیی له ازادۍ مخکې د څه شي څښتن نه وي، هر څه چې ورسره وي هغه يې د بادار وي.

**٣-** د سرسايې لپاره نصاب هم شرط دی، يعنې د اختر د ورځې د صبح صادق ختلو پروخت به دومره مال ولري چې زکات ورباندې فرض شي او د حاجت اصلي څخه يې زيات وي ،ځکه د ابو هريرة رضی الله عنه په حديث کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: (لاَ صَدَقَةَ إِلاَّ عَنْ ظَهْرِ غِنًى). صحيح البخاري (٣ /٤٤٦)

ترجمه:- نشته (وجوبي ) صدقه ، مګر يوازې د شتمنۍ په حالت کې لازمه ده.

په ضرورت اصليه کې کوم کوم شيان داخل دي ؟

په ضرورت اصليه ( يعنی حاجت اصليه ) کې دا شيان داخل دي : د اوسيدو د پاره کور، داغوستلو د پاره جامي ، د کار او کسب لپاره سامان او وسائل، د استعمال دپاره سورلۍ ( لکه په نن زمانه کې سائکل ، موټر سائکل ، موټر وغيره ) ، هغه دوکان چې د کور مصرف ورڅخه تر لاسه کوي او هغه ځمکه چې د خپل عيال لپاره د غذايې توکو د ترلاسه کولو په خاطر يې کري دا په ضرورت اصلي کې حسابيږي، په دې شرط چې ددوکان څخه تر لاسه شوي ګټه او يا دځمکې

محصولات يې د کورنۍ د يو کال مصرف پوره نکړي او دا مفتی به قول دی(يعنې په دې سره نه غني کيږي). رد المحتار (٧/ ٢٣٩)

ضرورت مطابق کوم سامان او وسائل چی هر وخت په کار راځي يا کله کله په کار راځي نو دا ټول په ضرورت اصليه کې داخل دي ( په دې سره يو کس غني نه ګرځي ) الهداية شرح البداية (١/ ٩٧)، البحر الرائق (٢/ ٢٢٢)، رد المحتار (٧/ ٢٣٩).

په اوسني عصر کې مبائل، کمپيوټر او د علم هغه کتابونه چې دتجارت لپاره نه وي په ضرورت اصلي کې حسابيږي. المتين فی الفقه الحنفي (ص: ٢٤٨)

## د سرسايې د نصاب اندازه:

د زکات د نصاب اندازه او د سرسايې د نصاب اندازه يوه ده. يعنې که څوک داختر په ورځ د (٨٧،٤٧٩) ګرامه (طلا) سرو زور ولري او يا د دی اندازې قيمت ولري او يا د (٦١٢،٣٥) ګرامه (نقره) سپينو زر ولري او يا د د دې اندازې قيمت ولري ،او يا دومره سامان، ملکيتونه او څاروې ولري چی د طلا او يا دنقرې قيمت ورسيږې او د ضرورت اصلی څخه يی زيات وې داسې کس صاحب د نصاب دی او سرسايه ورباندې واجب ده.[احسن الفتاوی، محمود الفتاوی]

د سرسايې د وجوب لپاره نصاب شرط دی خو بلوغ او عقل شرط نه دي ؛ نو ځکه پر هر آزاد مسلمان باندې کوچنی وي اوکه لوی ،نارينه وي او که ښځينه ،هوښيار وي او که ليونی سرسايه واجب ده په دې شرط چې دنصاب په اندازه مال ولري او له هر ډول حاجات اصليه ؤ څخه اضافه وي.

د سرسايې په نصاب باندې د زکات د نصاب په شان يو کال تيريدل (حولان حول) شرط نه دي، بناءً که د کوچني اختر له د صبح صادق د ختلو پر وخت يوڅوک د ټاکلي نصاب څښتن شي، سرسايه پرې لازمه ده.

## د سرسايې مشروعيت او حکمت:

د سرسايې حکمتونه زيات دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١- دسرسايې حکمت د فقيرانو او مسکينانو حاجت پوره کول دي او د اختر په بختوره ورځ کې يې دسوال له ذلت څخه ژغورل دي.

٢- فقيران او مسکينان په داسې ورځ کې خوشحاله کول دي چې ټول مسلمان په کې خوشحاله وي.

٣- په سرسايې سره د روژه دار مال پاکول دي، وروسته له هغې چې جسم يې په روژې سره له ګناهونو څخه پاک کړ.

٤- همدا راز سرسايه نفس د بخل له خيرو څخه پاکوي.

٥- سرسايه د هغو خللونو او نقصانونو لپاره جبيره ده چې د روژې پر مهال له روژتي څخه سهوا يا عمدا پيښيږي، چې ځينې پورتني حکمتونه په لاندې حديث شريف کې ذکر شوي دي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ مَنْ أَدَّاهَا قَبْلَ الصَّلاَةِ فَهِىَ زَكَاةٌ مَقْبُولَةٌ وَمَنْ أَدَّاهَا بَعْدَ الصَّلاَةِ فَهِىَ صَدَقَةٌ مِنَ الصَّدَقَاتِ). سنن أبى داود-ن (٢/ ٢٥)

ترجمه:- عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي رسول الله صلی الله عليه وسلم صدقه فطر دروژتي دباطلو او ناوړه خبرو څخه د پاکوالي لپاره لازم کړی ده اوهم د مسکينانو د خوراک لپاره واجب کړی ده. چاچې سرسايه اداء کړه مخکې له د(اختر) لمانځه څخه نو دا قبول شوی زکات دی او چاچې اداء کړه وروسته له لمانځه څخه نودا يوه صدقه ده د نورو صدقاتو په شان.

امام نووي رحمه الله په المجموع کې له وکیع بن جراح رحمه الله څخه نقلوي چې هغه به ویل:(زكاة الفطر لشهر رمضان كسجدتي السهو للصلاة . تجبر نقصان الصوم كما يجبر السجود نقصان الصلاة). المجموع (٦/ ١٢٠)
ترجمه:د رمضان د میاشتې سرسایه د سجده سهوې په شان ده، جبیره کوي نقصان د روژې لکه چې جبیره کوي سجده سهوه نقصان دلمانځه.

## د سرسایې ځینې احکام:

۱- دا واجب ده چې سرسایه باید مستحق شخص ته ورکړل شي او د سرسایې مستحق هماغه دفرضي زکات مستحقین دي(فقیران، مسکینان، د زکات راټولوونکی، قرضداران، د الله تعالی د لارې مجاهدین او مسافرین).لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ).التوبة:(٦٠)
ترجمه:- بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) یواځې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو کسانو لپاره دي چې پر دغو باندې عامل (راټولوونکي) مقرر وي او د هغو لپاره دي د چا په زړونو کې چې الفت (مینه او اسلام ته رغبت) اچولی شي او په (ازادولو د) څټونو (د مریانو مکاتبانو) کې ( به صرف کولی شي) او تاوان موندونکو لپاره دي او د الله په لار کې او د مسافرو لپاره (به صرف کولی شي) دغه مقرره فریضه ده د الله له جانبه او الله ښه عالم، ښه حکمت والا دی.
۲- بهتره داده چې هغه کسانو ته ورکړل شي چې مستحق هم وي او خپلوان هم وي او یا په نږدی ګاونډ کې وي په دې شرط چې خپل منځ کې یو دبل اصول او فروع نه وي.
۳- د سرسایې رکن دادی چې فقیر او یا بل مستحق ته بالفعل ورکړل شي او هغه باید د سرسایې مالک وګرځول شي، نه داچې یواځې د هغه په نوم شي.
۴- سرسایه داختر د ورځې صبح صادق په ختلو سره واجبېږي. که چیرې ددې ورځې څخه څوک مخکې مړ شي په هغه باندې سرسایه نشته. همدا راز که څوک د کوچني اختر له ختلومخکې پیدا شو پر هغه سرسایه واجب ده او که څوک د اختر ورځې د صبح صادق څخه وروسته پیدا شو یا یې اسلام قبول کړسرسایهورباندې واجب نه ده.
خو که چیرې کوم فقیر دصبح صادق څخه مخکې د نصاب په اندازه مال مالک شو سرسایه ورباندې واجب ده.
همدا شان که څوک د صبح صادق دختلو څخه وروسته مړ شو نو پر هغه سرسایه واجب ده.که چیرې له چا څخه د زیات عمر له وجې یا د مرض له وجې روژه ساقط شوي وي ، سرسایه ورباندې واجب ده. الفتاوى الهندية (١/ ١٩٢)
۵-سرسایه داختر له ورځ څخه مخکې ورکول هم جواز لري ؛ البته مستحب داده چې اختر لمانځه ته د وتلو څخه مخکې ورکړل شي او د اختر له لمانځه څخه وروسته ورکول یې مکروه دي؛ ترڅو فقیران او مسکینان خپل حاجتونه ورباندې پوره کړي او داختر خوشحالیو کې شریک شي او داختر لمانځه ته بیکاره شي، په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِزَكَاةِ الْفِطْرِ، أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ). صحيح مسلم (٢/ ٦٧٩)
ترجمه:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم امر کړی دی چې سرسایه دې ورکړل شي مخکې د وتلو د خلکو لمانځه ته. یا لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (أَغْنُوهُمْ فِي هَذَا الْيَوْمِ). الدارقطني (٣/ ٨٩) بې نیازه کړئ (فقیران) په دې ورځ د(اختر) کې. یعنې د سرسایې په ورکولو سره یې حاجت پوره کړئ.
٦- سرسایه چې په چا باندې واجب شوه دهغه دمال په لمنځه تللو سره، سرسایه دهغه له ذمې څخه نه ساقطیږي. (نورالایضاح)
۷- د سرسایې سبب ځان او هغه څوک دي چې پرهغوی ولایت او شرعي واک ولري، بناءً سرسایه دخپل ځان او دصغیرانو اولادونو څخه ورکول کیږي او د لیوني اولاد سرسایه ورکول هم په پلار واجب ده، په دې شرط چې صغیر او لیوني اولاد

خپل مال نه درلود که چیرې صغیر او یا لیوني اولاد خپل مال درلود بیا به پلار د هغوی سرسایه د هغه دمال څخه ورکوي.
دبالغ اولاد سرسایه ورکول په پلار واجب نه ده او دښځې سرسایه په خاوند واجب نه ده؛ البته د بالغ اولاد اوښځې څخه سرسایه ورکول هم جواز لري.( البحر الرائق)
د مور او پلار سرسایه په ځوی باندې واجب نه ده اگر که سرپرستي ځوی گوي، همدا راز په ورور باندې د وړو خویندو او نورو خپلوانو سرسایه واجب نه ده ولو که دده سره اوسیږي. الفتاوی الهندية (۱/ ۱۹۳)
**۸-** سرسایه داختر په ورځ ماشومانو ته داختر په عیدي(داختر شیرینۍ) کې ورکول درست کار نه دی او د سرسایې ورکوونکي غاړه نه خلاصیږي.
**۹-** سرسایه دڅلور ډوله غذایې توکو څخه ورکول کیږي چې منصوصي توکي ورته ویل کیږی: غنم،(یادغنمو وړه) وربشې(یاد وربشو وړ)، خرما او ممیز. دا غذایې توکي د سرسایې لپاره معیار دي. نور حبوبات چې غذایې توکي حسابیږي لکه جوار او وریجې د هغه به د قیمت په اعتبار سره ورکول کیږي .یعنې دومره اندازه باید ورکړل شي چې قیمت یې دغنمو یا وربشو د مقدار له قیمت سره برابر وي.
**۱۰-** د غنمو وړه ورکول بهتره دي له دانو ورکولو څخه او ددې غذایې توکو قیمت ورکول بهتره دي له دانو ورکولو څخه.
الفتاوى الهندية (۱۹۱/۱-۱۹۲)

**۱۱-** سرسایه چې یو ځل پر چا واجب شي بیا دده له ذمې څخه د وخت په تیریدو سره نه ساقطیږي. التبيين (۱/ ۳۱۱)
**۱۲-** دا واجب ده چې د یو کس سرسایه باید ټوله یو فقیر یا یو مسکین ته ورکړل شي او په دوه یا زیاتو یې تقسیمول جائز نه دي. تبيين الحقائق (۱/ ۳۱۱)
**۱۳-** همدا راز که چیرې یو څوک د نصاب په اندازه د مال څښتن شي او سرسایه ورباندې واجب شوه بیا ټول مال هلاک شو او مالک یې فقیر شو او سرسایه یې ادا نکړه، سرسایه ورباندې پاتې شوه او سرسایه ورڅخه نه ساقطیږي.

## د سرسایې اندازه :

سرسایه دڅلور ډوله خوراکی توکو څخه په لاندې مقدار سره ورکول کیږی:
**۱**-نیمه پیمانه غنم یا د نیمه پیمانې دغنمو اوړه ( د۱۹۰۰ گرام) یعنی یو کلو اونهه سوه گرامه.
**۲**-یوه پیمانه وربشې یا یوه پیمانه د وربشو اوړه( ۳۸۰۰گرامه) یعنی دری کلو او اته سوه گرامه.
**۳**-یوه پیمانه خرما (۳۸۰۰گرامه) یعنی دری کلو او اته سوه گرامه.
**۴**-یوه پیمانه ممیز (۳۸۰۰گرامه) دری کلو او اته سوه گرامه.
غوره داده چې ددغو اجناسو قیمت ورکړل شي؛ ځکه اړمن خلک کولای شي خپلی اړتیا وې په پیسو سره رفع کړي. (البحر الرائق، نورالايضاح)

- همدا راز که چیرې احتیاطا د غنمو یا دغنمو د اوړو د(۱۹۰۰گرامه) مقدار په ځای پوره ددوه کلو غنمو قیمت ورکړل شي یاد یوې پیمانې وربشو(۳۸۰۰ گرامو) په ځای پوره دڅلورو کلو قیمت ورکړل شي بهتره به وي.
- هغه کسان چې مالداره دي او زیات توان ولري بهتره داده چې دهغه جنس قیمت ورکړي چې په بازار کې یې نرخ لوړ دی.

## دوهمه برخه: د اعتکاف فضایل او احکام

د هغو بهترو اعمالو څخه دی چې باید د رمضان المبارک په وروستۍ عشره(لسیزه) کې وشي هغه اعتکاف دی. اعتکاف په ټولو تیرو ملتونو کې پیژندل شوی عبادت دی.

د الله جل جلاله د محبت په مزل کې پر انسان داسې وخت هم راځي چې خپل کور ، اهل و عيال او ټوله دنيا پريږدي او د څو ورځو لپاره ( په اعتکاف کې) ټول عالم ته شاکړي او د خپل محبوب سره په راز او نياز کې مشغول شي. معتکف نه يواځې خپل کور پريږدي؛ بلکي د ټولو قريبانو او عيالونو سره هم خپل تعلق رالنډ کړي.

**د اعتکاف تعريف:**

اعتکاف په لغت کې پر يو شي باندې ځنډ او تم کيدلو ته وايي او په اصطلاح کې په هغه مسجد کې د اعتکاف په نيت پاتې کيدل چې پنځه وخته لمونځ په کې کيږي د روژې په حالت کې. الجوهرة النيرة (٢/ ٦٣)

**د اعتکاف فضيلت:**

د اعتکاف فضيلت د الله تعالى ددې مبارک آيت څخه معلوميږي:{ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ } البقرة: (١٢٥) ځکه چې الله جل جلاله د معتکفينو مدح او صفت کړی دی.

ترجمه:- دا چې تاسو (دواړه) زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع کوونکو، سجده کوونکو لپاره ښه پاك کړئ.

بل داچې اعتکاف درسول الله صلى الله عليه وسلم هغه عمل دی چې هغه ورباندې هميشه والی او مواظبت کړی دی.

په يو حديث شريف کې راځي:( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ). صحيح البخاري ت (٥/ ١٦٣)

ترجمه:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چی هغه وفرمايل: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په وروستی لسيزه کې اعتکاف کولو.

- په بل حديث شريف کې راځي:(عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللَّهُ ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ). صحيح البخاري ت (٥/ ١٦٤)

ترجمه:- د عائشې رضي الله عنها څخه روايت شوی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په وروستی لسيزه کې اعتکاف کولو تر هغې پورې چې وفات شو بيا د هغه د وفات نه وروسته دپيغمبرعليه السلام بيبيانو اعتکاف کولو.

په يو بل روايت کې د پيغمبرعليه السلام داعتکاف په اړه داسې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ فِي كُلِّ رَمَضَانٍ عَشْرَةَ أَيَّامٍ فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْمًا). صحيح البخاري ت (٥/ ١٩٧)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: رسول الله -صلى الله عليه وسلم- به هر رمضان کې لس ورځې اعتکاف کاوه او کوم کال کې چې وفات کيده شل ورځې اعتکاف يې وکړ.

-په يو بل حديث شريف کې نبي عليه السلام اعتکاف ته خلک تشويق کړي دي. (مَنْ اعْتَكَفَ مَعِيَ فَلْيَعْتَكِفْ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ ).موطأ مالك (٣/ ٤٦٠)

ترجمه:- څوک چې له ما سره اعتکاف کوي ، د روژې په لسو اخيرو کې دې اعتکاف وکړي.

په يو بل حديث شريف کې راځي چې اعتکاف انسان له ګناهونو ساتي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ :هُوَ يَعْكِفُ الذُّنُوبَ، وَيُجْرَى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كَعَامِلِ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا). سنن ابن ماجه (١/ ٥٦٧)

ژباړه:- له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اعتکاف کوونکي په اړه وويل: هغه له ګناهونو څخه ژغورل کيږي او (د اعتکاف له امله چې کومې ښېګڼې نشي ترسره کولای) هغه ته دومره نېکيانې ليکل کيږي څومره چې يې ترسره کوونکي ته ليکل کيږي.

په يو بل حديث کې د اعتکاف دفضيلت په اړه داسې راغلي دي: (وَمَنِ اعْتَكَفَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ تَعَالَى جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ ثَلَاثَ خَنَادِقَ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْخَافِقَيْنِ).شعب الإيمان (٥/ ٤٣٦)، المعجم الأوسط (٧/ ٢٢١)

ترجمه:-اوځوک چې د الله جل جلاله د رضا لپاره یوه ورځ اعتکاف وکړي الله تعالی به دده اودجنهم ترمنځ درې خندقه فاصله راولي چې د یو خندق فاصله به دبل خندق سره د ځمکې او اسمان ترمنځ (یا دمشرق او مغرب) دفاصلې څخه زیاته ده .

عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ،عَنْ أَبِيهِ،قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:مَنِ اعْتَكَفَ عَشْرًافِي رَمَضَانَ كَانَ كَحَجَّتَيْنِ وَعُمْرَتَيْنِ).شعب الإيمان (٥/ ٤٣٦)

ترجمه:- ځوک چې په رمضان کې لس ورځې اعتکاف وکړي دا داسې دی لکه ځوک چې دوه حجونه وکړي او دوه عمرې وکړي.

دا وروستي دواړه حدیثونه اگر چې د سند په لحاظ ضعیفه دي؛ خو په فضائل الاعمال کې قابل د عمل دي.

جلیل القدر تابعي امام زهري رحمه الله فرمایي: (عجبا من الناس كيف تركوا الاعتكاف ورسول الله صلى الله عليه وسلم كان يفعل الشيء ويتركه وما ترك الاعتكاف حتى قبض وفي الاعتكاف تفريغ القلب عن أمور الدنيا وتسليم النفس إلى بارئها والتحصن بحصن حصين وملازمة بيت الله تعالى. المبسوط (٣/ ١١٤)

ژباړه:- امام زهري رحمه الله فرمایي: خلکو ته تعجب کوم دوی څرنگه اعتکاف باندې عمل کول پرېښی دی؟ پیغمبرعلیه السلام به کله یو کار کولو او کله به یې پرېښودلو، خو اعتکاف یې تر وفات پورې نه دي پرېښی.

په اعتکاف کې ددنیایي کارونو څخه د زړه فارغول دي او خپل خالق ته دنفس تسلیمول دي او په مضبوطه قلاکې پناه اخیستل دي او دالله تعالی په کورکې پاتې کېدل دي.

قال عطاء: مثل المعتكف كمثل رجل له حاجة إلى عظيم فيجلس على بابه ويقول لا أبرح حتى تقضي حاجتي والمعتكف يجلس في بيت الله تعالى ويقول لا أبرح حتى يغفر لي فهو أشرف الأعمال إذا كان عن إخلاص. المبسوط (٣/ ١١٤)

ژباړه:- امام عطاء رحمه الله فرمایي: د معتکف مثال دهغه سړي دی چې کوم مشر ته یې ضرورت بند وي اودهغه په دروازه پریوځي او ورته ووایي چې زه به دلته ترهغې پروت یم ترڅو زما حاجت پوره کړې. معتکف هم دالله جل جلاله په کورکې پریوزي او وایي چې تر هغې به دلته پروت یم ترڅو راته ببښنه وشي بناءً اعتکاف ترټولو غوره عمل دی کله چې په اخلاص سره وي.

**د اعتکاف ډولونه:**

اعتکاف په درې ډوله دی:

**١. واجب اعتکاف:** دا هغه اعتکاف دی چې یو ځوک مطلق نذر ومني چې زه به یوه ورځ یا یوه میاشت او یا دومره موده د الله جل جلاله لپاره په اعتکاف کې کښېنم او یا یې د یو کار تر سره کېدو پورې وتړي چې الله جل جلاله که زما فلانی کار وکړ، زه به دومره موده د الله جل جلاله لپاره په اعتکاف کې تېروم.

**٢. سنت مؤکد کفایي اعتکاف:** چې د روژې په وروستیو لسو ورځو کې ترسره کېږي، لکه په حدیث کې راځي: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ). صحيح البخاري ت (٥/ ١٦٣)

ترجمه:- رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې په وروستیو لسو ورځو کې اعتکاف کولو.

**٣. مستحب اعتکاف:** د روژې د وروستیو لسو ورځو او نذر اعتکاف پرته نور هر وخت چې یو ځوک په جومات کې د اعتکاف په نیت تم کېږي، مستحب اعتکاف بلل کېږي.

مستحب اعتکاف د یوې گړۍ لپاره هم کېږي او روژه نیول هم ورته اړین نه دي، بلکې یوازې د یوې گړۍ لپاره که ځوک په جومات کې د اعتکاف په نیت تم شي هم د مستحب اعتکاف ثواب به یې تر لاسه کړی وي.

**د اعتکاف شرطونه:**

**د اعتکاف شرطونه په لاندې ډول دي:**

**۱. اسلام:** د کافر اعتکاف نه دی صحیح؛ ځکه اعتکاف یو ډول عبادت دی او کافر د عبادت اهل نه دی.

**۲. عقل:** د لیوني اعتکاف نه دی صحیح؛ ځکه مقصودي عبادت پرته له نیت څخه نه کیږي او لیونی د نیت کولو اهل نه دی .

**۳. د جنابت، حیض او نفاس څخه پاکوالی:** ځکه اعتکاف په جومات کې تر سره کیږي او نوموړي کسان جومات ته له ننوتلو څخه منع دي او بل داچې اعتکاف عبادت دی او دغه خلک په دغه حالت کې د عبادت څخه منع کړل شوي دي.

**۴.داعتکاف نیت:** ځکه اعتکاف یو ډول مقصودي عبادت دی او د مقصودي عبادت لپاره نیت شرط دی؛ نو پرته له نیت او ارادې څخه په جومات کې پاتې کېدو ته اعتکاف نه ویل کیږي.

**۵.** د واجب او سنت اعتکاف لپاره روژه هم شرط ده، له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وايي:(عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ : لاَ اعْتِكَافَ إِلاَّ بِصَوْمٍ). السنن الكبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (٤/ ٣١٧)، الهداية شرح البداية (١/ ١٣٢)

ترجمه:- له روژې پرته اعتکاف نشته .

**٦-** جومات.د نارينه لپاره داسې جوماتونه چې په هغو کې پنځه وخته لمونځ په جمع سره اداکیږي.

د ښځینه وو لپاره په کورونو کې هغه ځای چې هغوی په خپلو کورونو کې د لمانځه لپاره ځانګړی کړی وي، ښځینه به د اعتکاف په موخه جومات ته نه ځي؛ ځکه دښځینه لپاره غوره دا ده چې د کلي د جومات پر ځای په کور کې لمونځ وکړي.

په حدیث کې راځي:(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا، وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا). سنن أبي داود (١/ ١٥٦)

ترجمه:- دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د ښځې لمونځ په خپله کوټه کې غوره دی نسبت د انګړ لمانځه ته، او په پس خانه کې يې لمونځ غوره دی نسبت د کوټې لمانځه ته.

د دې حدیث موخه دا ده چې ښځینه د لمانځه پر مهال څومره په پرده کې وي دا غوره ده؛ نو ځکه يې د کوټې لمونځ د کور د انګړ له لمانځه څخه غوره دی او دکوټې په د ننه کوټګۍ کې لمونځ يې بيا د کوټې تر لمانځه غوره دی، ځکه چې په د ننه کوټګۍ کې بشپړه پرده کیږي دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې ښځینه جوماتونو ته تللې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبرمنو په جوماتونو کې اعتکاف کولو دا هغه وخت و چې فتنو او فسادونو شتون نه درلود، اوس چې د فتنې او فساد وخت دی، ښځې نشي کولای چې جماتونو ته لاړې شي، همدا خبره په یو حدیث کې په څرګندو ټکو بیان شوې ده.

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ لَوْ أَدْرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ كَمَا مُنِعَتْ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ). صحيح البخاري ت (٢/ ٢٨٠)

ترجمه:- له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وايي: که چیرې رسول صلی الله علیه وسلم د ښځینه وو نن سبا کړه وړه لیدلي وای نو له جوماتونو څخه به يې داسې منع کړې وای لکه د بنو اسرائیلو ښځې چې منع کړل شوی وي.

اعتکاف لپاره بلوغ شرط نه دی، د هوښیار هلک اعتکاف هم صحیح کیږي؛ ځکه هغه د عبادت وړتیالري لکه څنګه چې د هغه څخه نفلي لمونځ او روژه صحیح کیږي، همدارنګه اعتکاف يې هم صحیح کیږي.

د رمضان د آخري لسو ورځو سنت اعتکاف لپاره به د رووژې د شلمې نېټې د لمر لوېدو مخکې مخکې داخلیږي او د روژې په نه ویشتمه یا دېرشمه د شوال میاشت تر لیدو پورې به په اعتکاف کې پاتې کیږي. الفتاوى الهندية (١/ ٢١٤)

**هغه شيان چي د اعتکاف کوونکي لپاره مستحب دي.**

۱- اعتکاف کوونکي ته مستحب دی چې د بې ځايه او بې هو ده خبر و څخه پرهېز وکړي او دخپل خولې نه فقط د خير خبري وباسي.

۲- همدا شان روژه نيوونکي لره مستحب دي چي اهتمام د اعتکاف د روژې د اخري لسو شپو وکړي او په داسي مسجد کې اعتکاف وکړي چي په هغه کي ثواب او اجر زيات وي لکه مسجد حرام يا مسجد نبوي يا عام جامع مسجد.

۳- همدا شان مستحب دي د ده لپاره چي تلاوت د قرآن کريم ډېر وکړي مطالعه د حديثو د کتابونو وکړي او مذاکره د علم او درس او تدريس وکړي .

۴- همدا رنگه مطالعه او کتنه د هغو کتابو او رسالو وکړي چي په هغو کي قصي او واقعاتي د انبياؤ او صحابه کرامو او نيکانو خلگو وي .

۵- همدا رنگه ديني مسائل د علماء کرامو يا د معتمدو کتابونو څخه زده کړي.

٦- همدا رنگه اهتمام د نوافلو وکړي لکه تحية المسجد، تحية الوضوء، د اشراق لمونځ د څاښت لمونځ، د اوابين لمونځ، د صلوة التسبيح اداء کول په ټوله ورځ کي د خپل قدرت په اندازه سره که يې چيري شب قدر و لېدى نو دغه دعاء کول مستحب ده) : اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) رواه الترمذي

مستحب دی د اعتکاف کوونکي لپاره ډېر درود ويل پر نبی کريم صلى الله عليه وسلم باندي.

۷- په ويښه تېرول پنځه طاق شپې د شب قدر د شپو څخه .۹- او ډېري دعاوې کول د ځان لپاره او د مور او پلار لپاره د قريبانو دوستانو لپاره دټوله اهل اسلام لپاره خصوصا د اسلامي نظام د بقاء او استحکام لپاره.

**هغه کارونه چي معتکف ته يې کول روا دي.**

۱-خوراک، چيښاک، خوب کول.۲- ډوډی خپله کوره څخه راوړل پس له غروبه د لمر په وخت د عذر کې .۳- را نيول او خرڅول د خپل اولاد د ضرورت لپاره بې له دې چې هغه سامان مسجد ته راوړل شي .۴- نکاح، طلاق، او رجوع کول په ژبه سره .۵-خبرې کول په قدر د ضرورت په دې شرط چې د ده د خبرې سبب د تکليف د بل معتکف و نه گرځي.

٦ - د سر پريمينځل په دې شرط چې سر به يې د مسجد څخه دباندې وي. ۷- روا دیپريمينځل د لاسو او د پښو او اودس په يو لوی لوښي کې چې مسجد خراب او ککړ نه شي .۸-جامې بدلول، تيل استعمالول او خوشبوئي لگول.

۹ – ننوتل منارې اوحجرې ته د اذان لپاره او بل کار لپاره هم په دې شرط چې د مسجد په حدو دو کې به وي،

او که حجره د مسجد د حدودو څخه د باندې وه نو بيا فقط د اذان لپاره ورتلای شي. ۱۰- وتل له مسجد څخه د طبعي ضرورت لپاره لکه بولي او قضاء حاجت او د جنابت د غسل لپاره. ۱۱- او وتل د مسجد څخه د هوا د خارجولو لپاره .

۱۲- سگريټ او نسوار په مسجد کي کول ناروا دي او د دغو شيانو د استعمال لپاره د مسجد څخه و تل هم نه دي روا بلکه پرېښودل يې ضروري دی، او که يې ضرورت ډېر زيات ؤ د نسوارو نو چي کله بيت الخلاء ته انسان ځي په لاره کي بايد استعمال شي، يا په بيت الخلاء کي دننه استعمال شي، او بيا به بد بويې د خولې څخه پاکوي مسجد ته به راځي.

۱۳- د حاجت شرعي لپاره وتل روا دي لکه د جُمْعِې لمونځ لپاره به په داسې وخت کې ځي چې د جُمْعِې د ورځې اذان وشي او په مسجد کې به دومره پاتې کيږي چې لوکړي څلور رکعته سنت لمونځ وکړي ، خطبه واوري ، د جمعې لمونځ وکړي او د فرض لمانځه څخه وروسته شپږ رکعته سنت لمونځ وکړي. بدائع الصنائع (۲/ ١١٤)

١٤- که په ضرورت پسې را وتلی ؤ بيايې د مريض پوښتنه وکړه يا يې د جنازې لمونځ اداء کړ، دا ورته روا دی ليکن خاص د دغه کار لپاره وتل ورته نه دي روا .١٥- روادی اعتکاف کوونکي لره ملاقات د خپلو محرماتو ښځو سره لکه مور، خور، خاله ، خوابنې په دې شرط چې هغوی په حجاب کې وي .١٦- وېښته کوچني کول په خپله يا په بل سره بې له مزدورۍ

په مسجد کې روا دي او که حجام ، نايي مزدوري غوښته معتکف به دننه وي او حجام به د مسجد څخه وتلی وي، ځکه کار په مزدورۍ په مسجد کې نه دی روا. ١٧- د جامو پرېمينځل او ګنډل په مسجد کي روا دي په دې شرط چي مسجد ککړ نشي.

## هغه شيان چي اعتکاف کوونکي لره مکروه دي.

**١-** د خپلي ښځي سره صحبت کول .٢- او لاس وروړل په خوند او شهوت سره .٣- او داسې خبرى کول چې د هغو څخه خوند او شهوت را پيدا شي دغه کارونه حرام دي.۴ - ديني يا دنيوي تعليم ورکول په پېسو سره .۵- همېش خاموشي اختيارول په دې نيت سره چې دغه خاموشي ثواب لري .٦- بد بويه اشياء خوړل او د هغو استعمال دغه ټوله مکروه دي.

## هغه شيان چي اعتکاف فاسده وي.

**١-** وتل د مسجد څخه بې له شرعي او طبيعي ضرورت که دلږ وخت لپاره وي او که د ډېر وخت لپاره که په هېره سره وي او که په قصد سره وي که د خوشحالۍ لپاره او که د غم لپاره وي ليکن که يې اعتکاف فاسد شو د عذر د و جي نو ګناه نشته پر معتکف باندې لکه د مريضۍ د وجي يا د مسجد د نړېد و خطره وه ، يا يو چا په زور سره و اېستی د مسجد څخه.

د مسجد څخه په وتلو سره هغه وخت اعتکاف فاسديږي چې ټول جسم يې له مسجد څخه بيرون شي ، که چيرې د بدن يوه عضوه يې خارج شوه بيا يې اعتکاف نه فاسديږي. الموسوعة الفقهية الكويتية (٥/ ٢٢٤)

**٢-** د مسجد څخه وتل د لاسو د پريمينځلو لپاره دا هم اعتکاف فاسده وي مسواک و هلو لپاره و تل دا هم اعتکاف فاسده وي مګر که او دس ورسره و بيا نه فاسديږي .

**٣-**که چيرې شرعي يا طبيعي حاجت يې تر سره کړ، بيا هم معتکف ځنډ وکړ او فورا مسجد ته رانه غلی اعتکاف يې فاسد شو.

**۴-** د روژې د مياشتي اعتکاف که چا فاسد کړ، فقط د هغې ورځي قضاء به را وړي کومه ورځ چې ده فاسده کړې ده د ټول اعتکاف قضاء راوړل ورباندې نه دي لازم .